# ملي ډموکراټيک انستيټيوټ او
# د متحده ايالتونو د سولې انستيټيوټ
# د 2016 د نوامبر د مياشتې د افغانستان د ماموريت رپوټ

دا رپوټ د ملي ډموکراټيک انستيټيوټ او د متحده ايالتونو د سولې انستيټيوټ څخه د ګډ پلاوي لخوا چې د نوامبر د 10 څخه تر 16 پورې يې له افغانستان څخه ليدنه کړې ده، وړاندې کيږي. دا ماموريت د افغانستان د ملي وحدت حکومت له جوړيدو دوه کاله وروسته او د هيواد د ټاکنيزو بنسټونو د غړو د ګمارلو سره سم په هيواد کې ترسره شوی دی. دې پلاوي سياسي چاپيريال او د ټاکنيزو اصلاحاتو بهير څيړلی دی.

په دې پلاوي کې ډاکټر کارين ون هيپل، د متحدو خدمتونو د سلطنتي انستيټيوټ عمومي رئيس؛ پيټر مانيکاس، د ملي ډموکراټيک انستيټيوټ لوړپوړی چارواکی او د آسيايي پروګرام سيمه ييز رئيس؛ اسکات وردن، افغانستان لپاره د متحده ايالتونو د سولې انستيټيوټ او مرکزي آسيا پروګرامونو رئيس او آغلې رئيسه تتدهزل، د ملي ډموکراټيک انستيټيوټ د آسيايي پروګرام د سيمه ييز رئيس مرستيالې ګډون درلود. له دې پلاوي سره په افغانستان کې د ملي ډموکراټيک انستيټيوټ کارکوونکو هر يو ښاغلي محمد داود کوهي، مژګان يارمحمدي، محمد کريمي، مختار صفري او عالمه سادات او همدا شان اقليما مرادي په واشنګټن کې د انستيټيوټ کارکوونکې همکاري درلوده.

نوموړي پلاوي له ولسمشر محمد اشرف غني؛ ډاکټر عبدالله عبدالله، اجرائيه رئيس؛ حامد کرزی، پخواني ولسمشر؛ سرور دانش، د ولسمشر مرستيال؛ حاجي محمد محقق، د اجرائيه رياست دويم مرستيال؛ محمد کريم خليلي، د پخواني ولسمشر مرستيال؛ صلاح الدين رباني، د بهرنيو چارو وزير؛ فيض الله ذکي، د ملي امنيت د شورا مرستيال؛ محمد يونس قانوني، د پخواني ولسمشر مرستيال او د ولسي جرګې پخوانی رئيس؛ عبدالهادي ارغنديوال، د اقتصاد پخواني وزير؛ محمد عمر داودزی، د کورنيو چارو پخوانی وزير؛ امرالله صالح، د ملي امنيت د رياست پخوانی رئيس؛ د مشرانو جرګې او ولسي جرګې غړو، د پخواني ټاکنيزو اصلاحاتو د ځانګړي کميسيون غړو، پر ټاکنو د کورنيو څارونکو ادارو رئيسانو، دولتي او امنيتي چارواکو، د سياسي ګوندونو رهبرانو، د مدني ټولنو استازو، ښځينه فعالينو، د ځوانانو ډلو، رسنيو او نړيوالې ټولنې له غړو سره خبرې اترې او ليده کاته وکړل.

پلاوی د افغانستان د ډموکراټيک بهير د ځواکمنيدو په هيله، خپل موندنې او وړانديزونه وړاندې کوي. پلاوی د دې رپوټ په وړاندې کولو سره دا په پام کې نلري چې ګوندې د افغانستان په سياسي يا ټاکنيزو چارو کې لاس وهنه وکړي او په بشپړه توګه دا درک کوي چې د افغانستان خلک د خپل هيواد د ډموکراسۍ او پراختيا ټاکونکي دي.

پلاوي چې له هر شخصيت سره ليدنه کړې، ترې مننه کوي. موږ نشوای کولای د دوی د مالوماتو او نظرونو پرته داسې يو ماموريت تر سره کړو. ملي ډموکراټيک انستيټيوټ د 2002 کال راهيسې په افغانستان کې د سياسي پراختيا او د ټاکنو د ملاتړ په برخه کې پروګرامونه پلي کړي دي او د متحده ايالتونو د سولې انستيټيوټ د حکومتدارۍ، د قانون د حاکميت او د شخړو/ منازعاتو د هوارۍ پروګرامونه لرلي دي. دواړه ادارې له هغه همکاريو څخه چې د افغانستان حکومت، سياسي ګوندونو او ائتلافونو او همدا شان مدني ټولنو له دوی سره درلودلي دي، قدرداني کوي.

---

*   د متحده ايالتونو د سولې انستيټيوټ کومې ځانګړې د پاليسۍ دريځ لپاره عدالت غوښتنه نه کوي.

**   ښاغلي ډاکټر ون هيپل د خپل شخصي وړتياوو په وجه دې ماموريت کې برخه اخيسته ده. دا رپوټ په حتمي توګه د متحدو خدمتونو د سلطنتي انستيټيوټ نظرونه نه څرګندوي

## څغلنده نظر

هغه ننګونې چې افغانستان ورسره مخ دی، څو بعدي او جدي دي. د ملي يووالي حکومت چې د 2014 کال شخړيزو ټاکنو په پايله کې رامنځته شو، په هر ډول چې وو په دې دوو کلونو کې يې ځانته ښه غوره کړه. په دولت کې د تعيناتو پر سر د ولسمشر محمد اشرف غني او اجرائيه رئيس ډاکټر عبدالله عبدالله ترمنځ اختلافونه د ډيرو شخړو لامل شول. دې ته په پام لرنې سره چې په ورستيو کې د اصلاحاتو لورې ته ابتدايي ګامونه اخيستل شوي دي خو بيا هم دولت بايد د تاسيسی هوکړه ليک کليدي عناصر په ځانګړي ډول ټاکنيز اصلاحات، د پارلماني او ولسواليو شوراګانو د ټاکنو په لاره اچول او د اساسي قانون د لويې جرګې تر سره کړي. د افغانستان د حراست او ثبات شورا چې د اجرائيه رئيس ډاکتر عبدالله عبدالله له پلويانو او د پخواني ولسمشر کرزي د ادارې له چارواکو جوړه ده، پر دولت فشار راوړي چې ټاکنيز اصلاحات پرمخ بوزي پداسې حال کې چې پخوانی ولسمشر ښاغلی کرزی د ملي يووالي د حکومت پرځای، د عنعنوي لويې جرګې په دايرولو ټينګار کوي. طالبان د هيواد د بې ثباته کولو لپاره د خپلو هڅو د لا ډيرولو په تکل کې دي او د 2014 کال راهيسې د اسلامي دولت ډله (داعش) د هيواد د اقتصاد په راپرزيدو کې د بېلګې په ډول د بهرنيو او کورنيو پانګه اچوونکو د زړه سړولو په برخه کې مرسته کړې ده. د ملي يووالي حکومت او پاکستان ترمنځ اړيکې د بخښنې د ژمنو د پيل پرته په چټکۍ سره د ترنګلتيا په حال کې دي. کابل ته د ملي ډموکراټيک انسټيټيوټ او د متحده ایالتونو د سولې انسټيټيوټ د پلاوي د رارسيدو پر مهال، ولسي جرګې (د ملي شورا غړو) د کابينې د څوو تنو وزيرانو د احضار لړۍ په سيستماټيک ډول د هغوی د کړنو د ارزونې او د باور د سلب رايې په مؤخه تر لاس لاندې نيولی وو.

د دې ټولو ننګونو سربيره د هيواد سياسي سيستم بيا هم له ځانه د پام وړ مقاومت ښودلی دی. د نړيوالې ټولنې دوامدار ملاتړ چې د لوړو امنيتي همکاريو په ترڅ کې د 2016 جولای مياشت د ورسا په کنفرانس کې او د ملکي همکاريو لړۍ له تمې لوړو ژمنو سره د 2016 اکتوبر کې د بروکسل په کنفرانس کې تجديد شول چې دولت يې ځواکمن کړ ترڅو مهمې پراختيايې پروژې پلي کړي. داسې تر سترګو کيږي چې ولسمشر او اجرائيه رئيس پر کابينې د پارلمان د بريد په مسئله کې لا ډيره همکاري لرله او په پخپلو منځو کې لا ډير سره ژمن وو. د اپوزيسيون مخکښ رهبران په دې هڅه کې نه دي چې د ملي يووالي حکومت راوپرځوي. د هيواد ډيری سياستوال د دې لاملونو له کبله چې ګويا غوره موقف نلري يا د جنګ د بيرته راګرځيدو ويره لري يا هم په دې باور دي چې د ډموکراسی دا نيمګړۍ ولې کاري بهير سياسي موخو ته د رسيدو د غوره لارې په توګه انګيري او ملاتړ کوي.

په هر صورت دا شرايط له ثبات سره ډير واټن لري او هغه پرمختګونه چې په تيرو 15 کلونو کې تر لاسه شوي د بيرته ګرځيدو وړ دي. که چيرې د ملي يووالي حکومت د خپلو ژمنو لوري ته کوټلي ګامونه پورته نه کړي نو شرايط په چټکۍ سره خرابيږي. همدا اوس هم د ولسي جرګې مشروعيت چې د قانون له مخې يې د تعين له مودې دوه کاله ډير تير شوي دي د سوال لاندې دی او د ټاکنو د لړۍ په لاره اچولو کې ځنډ کېدای شي د خلکو باور د هيواد د سياسي بنسټونو پر وړاندې له منځه يوسي. د بيلګې په توګه يوه سروې چې په دې ورستيو کې د آسيايي بنسټ لخوا تر سره شو، دا يې موندلې چې دا ځل د خلکو باور د ټاکنو پر کمېسيون او نورو دولتي بنسټونو له بل هر وخت څخه کم دی. همدا شان دا يې هم موندلې چې د خلکو باور پر ډموکراټيکې لړۍ هم کم شوی دی. [1] سربيره پردې، امنيتي ستونزې هم مخ په ډيريدو دي. په تيرو کې جګړې تر ډيره بريده موسمي وې په دې مانا چې په پسرلي کې به جګړې ډيرې شوې او په ژمي که به بيا جګړې نه وې. [2] اما اوس

[1] آسيايي بنسټ، "د افغانستان د خلکو سروې ــ افغانستان 2016، ص 103-106
[2] آسايي بنسټ، "د افغانستان د خلکو سروې ــ افغانستان 2016، ص 103-106

مهال د طالبانو د نښې نښانې په څوو مهمو ولایتونو کې لیدل کیږي او داسې تمه کیږي چې د کال په اوږدو کې به خپل سیستمي عملیاتو ته دوام ورکړي. د دولت ناکامي د ډموکراټیکو بنسټونو د ځواکمنولو په برخه کې په ځانګړې توګه د استازیتوب کوونکو بنسټونو لکه پارلمان په برخه کې ده خو داسې جوتیږي چې په دولت کې شته اداري فساد او ضعیفي د طالبانو د تقویت سبب کیږي.

په تیرو اونیو کې، دولت د ټاکنو د په لاره اچولو لورې ته پرمختګونه لرلي دي. د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون نوي غړي د یوې مشورتي لړۍ په ترڅ کې ټاکل شوی دي. سربیره پر دې، دولت او د ټاکنو خپلواک کمېسیون د لیږد نه وړ واحدې رایه اچوونې سیستم د ارزونې په حال کې دی چې د نویو سیاسي ګوندونو رامنځته کیدو ته یې ممانعت کړی دی او پایله یې دا ده چې د پارلمان غړي په ټیټو رایو له ولایتونو څخه ټاکل شوي دي. له څرنګه چې به بحث پرې وشي، د ټاکنیزو اصلاحاتو مسئله په قومي ډلو د عمده سیاسي ځواکونو د ویش لامل ګرځیدلی دی. ډیر د تاجیک، هزاره او ازبیک رهبران د تناسبي یا ګوندیز لړلیک لرونکي سیستم غوښتونکي دي پداسې حال کې چې پښتانه رهبران د واحد غړي ټاکلو حوزوي سیستم چې هر نوماند ډیري رایې ترلاسه کړې، ګټونکی دی ته ترجیح ورکوي.
د دې بحث حلول په ټاکنیزو اصلاحاتو کې د دې پوښتنې لپاره چې په هیواد کې سیالې سیاسي ډلې د واک د ترلاسه کولو لپاره به څرنګه په سیالي لاس پورې کوي، بنسټیز تر سترګو کیږي.

پداسې حال کې چې دولت او د مدني ټولنې ډیری رهبران د 2017 کال په مني موسم کې د ټاکنو د په لاره اچولو غوښتونکي دي خو بیا هم د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د لویو تشو پوستونو، د رایه اچوونې د پیچیدلي سیستم په اړه پریکړه کول، د رایه اچوونکو د نوم لیکنې لپاره د یو نوي لړۍ په لاره اچول او په ټول هیواد کې د موادو ویش د ژمي د موسم دمخه به ستونزمن وي. د یادو مواردو په اړه چټک پریکړه نیونه کیدای شي د داسې خطرنو او نیمګړتیاوو لامل وګرځي چې د 2019 په ولسمشریزو ټاکنو به هم اغیز ولري.

## کلیدي مشاهدات/ کتنې

- داسې تر سترګو کیږي چې د ملي وحدت حکومت د بروکسل د کنفرانس څخه مخکې اوس مهال لا ډیر ژمن دی او د سیاسي اپوزیسیون رهبرانو هم دا منلې چې د ملي وحدت د حکومت څخه د دوی د نارضایتی سره سره، بل غوره بدیل سمدستي شتون نه لري. د کابینې د هغو غړو د حذفولو لپاره د پارلمان هڅې چې ولسمشر او اجرائیه رئیس یې ملاتړ کاوه د دې لامل شوی چې ملي وحدت حکومت د ټاکنیزو اصلاحاتو او دې لړۍ ته د چټکوالي ورکولو په برخه کې ګامونه پورته کړي.

- د ټاکنو د هر خومره ژر دایرولو په برخه کې پراخې هوکړې شتون لري. ولې د ټاکنو په نوي قانون کې د ټاکنیزو اصلاحاتو د پلي کولو لپاره اړین وخت په پام کې نیولو سره، له تخنیکي نظره د 2017 کال په مني کې به د ټاکنو به لاره اچول ګران کار وي. د 2018 کال په پسرلي کې د ټاکنو په لاره اچول یو څه غوره بریښی ولې د ځانګړو اصلاحاتو لکه د رایه اچوونکو د نوم لیکنې لپاره د یو سیستم جوړول او پر نویو ټاکنیزو حوزو هوکړې لپاره به ډیر کم وخت پاتې شي. که چیرې پارلماني ټاکنې د 2018 کال له پسرلي څخه وځنډیږي نو بیا داسې اټکل کیږي چې پارلماني ټاکنې به د 2019 کال له ولسمشریزو ټاکنو سره یو ځای شي.

- د ملي وحدت د حکومت هوکړه لیک پرته د پارلماني ټاکنو د ولسوالیو د شوراګانو د ټاکنو په لاره اچول هم ایجابوي. د اساسي قانون د لویې جرګې د دایرولو لپاره دا ټاکنې د اساسي قانون شرط دی او د ولسوالیو د شوراګانو د استازو شتون لازمي دی. تر دې دمه، د ټاکنیزو حوزو د پولو پر سر د مخالفتونو او په سیمه ییزه حکومتولی کې د ولسوالیو د شوراګانو د ونډې په وجه، هیڅ د ولسوالیو د شورا ګانو ټاکنې نه دې ترسره شوي. داسې انګیرل کیږي چې دا توپیرونه به مخکې له 2019 کال څخه له منځه ولاړ شي.

- د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون د غړو د ټاکنو لړۍ تر ډیره بریده مسلکي او روڼ ښکاري. ولې اوس هم د کمېسیونونو د غړو د نسبي بې تجربه ګۍ او د حساسو پریکړو په برخه کې لکه د رایه اچوونکو نوم لیکنه او د ټاکنیزو حوزو د پولو ټاکل او د ټاکنو د پایلو د روڼ او کره ډاډ په برخه کې  د سیاسي فشارونو پر وړاندې د نیمګړتیاوو د موجودیت څخه اندیښنې شتون لري.

- د افغانستان دولت د د ټاکنیزو اصلاحاتو له ځانګړی کمیسیون سره د کتنو لپاره د تعیین شوي وخت په ځنډولو سره چې د ملي یووالی حکومت په هوکړه لیک کې روښانه شوې ده ، په ټاکنیز سیستم کې د بنسټیزو اصلاحاتو د رامنځته کولو موکه له لاسه ورکړه او و یې نشو کړای چې په ټاکنیز سیستم کې د بدولون د رامنځته کولو په برخه کې د کمیسیون هغه بنسټیزو سپارښتنو ته رسیدګي وکړي چې قوي سیاسي ګوندونو او ځواکمن پارلمان ته وده ورکوي. او پر ځای یې پریکړه د ټاکنو نوي خپلواک کمیسیون ته پاتې شوه.

- د ټاکنو نوی قانون د رایه اچوونکو د نوي لړلیک د چمتو کولو غوښتونکی دی ترڅو د دې پر مټ د سیمې پر بنسټ د رایه اچونکو ځانګړی نوملړ برابر کړي. په روڼ او کره توګه د دې کار تر سره کول په خینو ولایتونو کې د اوسني امنیتي وضعیت په پام کې نیولو سره تقریباْ ناممکنه تر سترګو کیږي.  د رایه اچوونکو د حقونو څخه محرمیدل به هم په ناامنه سیمو کې رامنځته شي. د هغه کسانو په اړه انعطاف منل چې نشي کولای په آسانه توګه د نوم لیکنې مرکز ته مراجعه وکړي کولای شي ټاکنیزو درغلیو او د صندقونو ډکولو ته لاره هواره کړي.

- یو بل فکتور چې کولای شي په راتلونکو ټاکنو اغیز اچوونکی وي هغه له پاکستان او ایران څخه د مهاجرو بیرته خپل هیواد ته راستنیدل دي. ملګرو ملتونو داسې اټکل کړی چې د دوی شمیر به په کال 2016 کې یو میلون کسانو ته رسیږي. د بیرته را ستانه شویو ګډولو نوم لیکنه به د نوم لیکنې لړۍ ته یوه اضافه ننګونه وي او همدا شان د دوی میشت کیدل به هم د رایه اچوونې بر ځایونو خپل اغیز اچوي.

- د دې نظرونو سره سره چې ټاکنیز سیاست به له قومیت څخه بهر شي او په هغو پالیسو چې بیانیږي تمرکز وشي خو د ټاکنیزو اصلاحاتو بحث به هم د قومي هویت په عنوان د ځانګړو ټاکنیزو اصلاحاتو د ملاتړ یا نه ملاتړ په برخه کې مخ پر شا لاړ شي. د دې بحث وضاحت موږ کولای شو د ټاکنیز سیستم په کارولو کې ښه تر سترګو کړو پداسې حال کې چې پښتانه د داسې یو سیستم غوښتونکی دی چې په هغه کې نوماندان خپلواک او یو غړی ټاکونکی حوزوی سیستم وي او غیر پښتانه د داسې سیستم ملاتړي دي چې په هغه کې د ګوندي غړو ډېروالی ډېر اغیز ولري.
- هغه هوکړه لیک چې په دې ورستیو کې د ملي وحدت حکومت او اسلامي ګوند ترمنځ لاسلیک شو د دې وړتیا لري چې د دې ثبت شوي ګوند په سیاسي واک کې بدلون راولي. په دې اړه چې آیا له ګوند سره د ګلبدین حکمتیار بیرته یوځای کیدل به ګوند پیاوړی کړي او یا به د محافظه کارو ګوندیزو غړو تر منځ څه جلاوالی پیدا کدي، بیلابیل اندونه شتون لري. د دې پوښتنې ځواب کیدای شي دلته خلاصه شي چې آیا د ګلبدین نظر د هغه د تبعید په موده کې یو څه نرم شوی او که نه.
- د امنیتي وضعیت په اړه بحثونه باید نیغ په نیغه د ټاکنیزو اصلاحاتو له بحثونو سره تړاو ولري. د تیرو ټاکنو ستونزې اغلب په هغه ځایونو کې رامنځته شوي چې هلته امنیتي وضعیت ښه نه وو او د 2001 کال پرتله اوس مهال طالبان ډېر ځایونه تر خپلې ولکې لاندې لري. ټاکنیزو چارواکو داسې وسلې چې حقیقتونه په کوم ډول چې دي باید ومنل شي او هڅه وشي چې تر ټولو غوره ممکن پلان ترتیب شي. مګر د مخالفینو په شا تمبولو کې د افغان امنیتي ځواکونو د پاملرنې وړ وړتیاوې به د ټاکنو پر پایلو په هغو ځو ولایتونو کې چې امنیتي وضعیت هلته ښه نه دی او جګړه روانه ده اغیز ولري. د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید واقعبینانه امنیتي ارزونې ولري تر څو وکولای شي خپل غوره پالیسۍ او پلانونه ترتیب کړي او د خلکو د روایتونو پر خلاف بریالیتوب په جګړه کې تر لاسه کړي.

**وړاندیزونه**

**<u>سنجول شوی او باثباته ټاکنیز اصلاحات له چټک او نیمګړی اقداماتو څخه غوره</u>** دی. مهمه ده چې بنسټیز او پر وخت پرمختګ د پارلماني با اعتباره ټاکنو لپاره په ټاکنیزو اصلاحاتو کې ولرو. په هر حال، دا ډول اصلاحات او ټاکنیز او مالي پانګونه باید د اوږود مهال لپاره په افغانستان کې د ټاکنو بهیر ځواکمن کړي.

**<u>همدا اوس د ټاکنو د نوی خپلواک کمیسیون او مدني ټولنې ملاتړ ته اړتیا ده</u>**. د افغانستان دولت باید په چټکۍ سره خپل هغه ملاتړ د واړه کمیسونونو څخه په ډاګه کړي چې دوی د دوی د فعالیتونو به تر سره کولو کې ځواکمنوي. نوي کمیسونونه په ځانګړي توګه د ټاکنو خپلواک کمیسیون خپل د درې میاشتني ارزونې لپاره د رایو د حوزو او د ټاکنیزو پروګرمونو د چمتوکولو په موخه، مالي او تخنیکي سرچینو ته اړیتا لري.

- تمویل کوونکي سرچینې باید په چټکۍ سره د ټاکنو د خپلواک کمیسیون اړینې روپۍ د افغانستان د دولت د غوښتنې سره سم برابرې کړي. د مقدماتي روپیو چټک تحویلول باید لمړیتوب ولري او وروسته باید د افغانانو لخوا د خپلواک تمویل او پلي کولو میکانیزمونه تر پاملرنې لاندې ونیول شي.
- د نویو کمېسیونونو پر خپلواکۍ د خلکو د باور د کچې د لوړولو لپاره باید د کمېسیونونو په کار کې لاس وهنه باید جرم وګڼل شي. (کیدای شي داسې اقدامات لکه د ولسمشر د یو فرمان صادریدل دغوراوي د کمېسون د ټاکلو څخه دمخه  په دې اړه چې څوک اجازه نلري د کمېسیون په کارونو کې لاس وهنه وکړي، په پام کې ونیول شي).
- د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید 40 سلنه هغه پوستونه ډک کړي چې له تیرو ټاکنو تش پاتې دي. د ګومارلو لړۍ باید د وړتیاوو، سلامشورې او روڼتیا پر بنسټ وي او د ولایت په کچه د بې پلوۍ او باور معیار باندې ټینګار وشي.
- تمویل کوونکي اداري باید د هغو مدني ټولنې له فعالیتونو څخه چې په ټاکنو کې د ګډون او د خلکو د نظارت په برخه کې مرسته کوي په ځانګړې توګه هغه بنسټونه چې د ځوانانو، ښځو او رسنیو ترمنځ په ولایتونو کې ځواکمنې ریښې لري، ملاتړ وکړي. دا بنسټونه د ټاکنیزو اصلاحاتو په بهیر کې د دوامداره،نه مقطع یې ګډون لپاره، سرچینو ته اړتیا لري.

**د ټاکنیز سیسټم او ټاکنیزو حوزو په اړه پریکړه نیونه، سلامشورې، روڼتیا او نوښت ته اړتیا لري.** د ټاکنو نوي قانون د ټاکنو د خپلواک کمېسیون څخه دا غوښتي چې خپل وړاندیزونه په دې اړه چې ګواکې دوی کولای شي چې ولایتي ټاکنیزې حوزې د رایه اچوونې په کوچنیو حوزو وویشي او که نه، او که چیرې هو نو څه ډول، وړاندې کړي.

- کمېسیون او دولت باید لمړی د دې بدلونونو به شتون کې هغه اصلي موخه وپیژني چې ټاکنیز سیسټم یې د ترلاسه کولو به هڅه کې دی. د بېلګې په توګه، که چیرې تر ټولو لویه اندیښنه د افغانستان د قومونو ترمنځ سیاسي بافت او قومي همکاري او ائتلاف جوړونه وي نو د ګوندیز نوملړ لرونکي یا ځوو بعدي استازیتوب سیسټم (پداسې حال کې چې د ټاکنیزو اصلاحاتو ځانګړي کمېسیون یې وړاندیز هم کړی وو) څخه د لیرد نه وړ واحدې رایه اچوونې سیسټم ډیر مناسب او غوره دی. که چیرې رایه اچوونکو ته د استازو حساب ورکونه اصلي موخه وي نو بیا یو غړی ټاکونکی حوزوي سیسټم ترجیح لري.
- د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید خپلې درې میاشتنۍ د ارزونې دوره کې د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړي کمېسیون چې د هیواد د لر او بر خلکو د پراخ نظرونه پکې رانغاړل شوي دي، په پام کې ونیسي. سربیره پر دې، دې ته په پاملرنې سره چې په دې ورستیو کې د سیاسي ګوندون ترمنځ بحثونه شوي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید د یو غړي ټاکلو حوزوي سیسټم او څوو غړو ټاکلو حوزوي سیسټم د اغیز په اړه له سیاسي ګوندونو او ائتلافونو سره لا ډیرې سلامشورې ترسره کړي.
- په افغنستان کې د ډول ډول امنیتي او عملیاتي ننګونو په پام کې نیولو سره، د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید اصلاحات د هغو ولایتونو په پام کې نیولو سره اولویت بندي کړی چې د اختلالاتو کچه پکې لوړه انګیرل کیږي. هغه ولایتونه لکه غزني او بغلان چې په رایه اچوونه کې ناامني د قومي ماتي لامل کیږي کولای شو د هغه ولایتونو پرتله په لمړیتوب کې قرار ورکړو چې هلته داسې خطرونه لږ تر سترګو کیږي.

**د رایه اچوونکو د نوم لیکنې سیسټم باید د تیرو نیمګړتیاوو د سمون پر بنسټ ترتیب شي او د 2019 پارلماني ټاکنو لپاره بنسټیز وی.**

- د ټاکنو د قانون 6مه ماده د رایه اچوونې به هر مرکز کې په ځانګړي ډول د رایه اچوونکو د نوملړ د پلي کیدو غوښتونکې ده. د ټاکنو خپلواک کمېسیون او د افغانستان دولت د تخنیکي مواردو او عملیاتي مهال ویش په پام کې نیولو سره باید د رایه اچوونکو د نوم لیکنې په موخه د یو معتبر سیسټم څرنګوالی په پام کې ونیسي. د دې نوملړ د پلي کیدو امکان باید د 2019 کال د ټاکنو د مخه وسنجول شي دا ځکه چې بیا د 2017 کال د ټاکنو لپاره په ناامنه سیمو کې کولای شو د یو ورزنیز نوم لیکنې بهیر وکاروو. د ټاکنو د قانون 6مه ماده
- د رایه اچوونکو د نوم لیکنې هر سیسټم چې په یوه ځانګړي ځای کې د رایه اچوونکو د حضور تمه لري باید په اټکلي ډول په ناسمو او یا اشتباهي ځایونو کې هم او یا د ټاکنو په ورځ د امنیتي بیړني حالت له کبله د رایه اچوونکو په تمه وي. دا امر د رایه اچوونې د نویو قواعدو او اټکلي پروګرامونو په اړه د رایه اچوونکو چټکو زده کړو  پوري اړینه ده چې رایه اچوونکې د ټاکنو په ورځ د رایه اچوونې ناسمو مرکزونو کې حاضریږي.

**نړیواله ټولنه باید د سیاسي ګوندون د مدرن کولو او د دوی له فعالیتونو لکه د دنني مدیریت پیاوړی کول، موکلینو ته لاس رسی، د خط مشې جوړول او ائتلاف جوړولو څخه ملاتړ وکړی.** سربیره پر دې چې په افغانستان کې 58 ثبت شوي سیاسي ګوندونه شتون لري، خو د هیواد په سیاسي پراختیا کې یې کومه بنسټیزه ونډه لوبولي نه ده. دې عمل پر خلکو د حکومت کولو په برخه کې ډیرې اغیزې لرلي دي. سیاسي ګوندونه کولای شي د قانون جوړونې به برخه کې ژورې اړیکې ولري، د خلکو ګټې په لویه پیمانه راغونډې او له هغوی څخه استازیتوب وکړي او د رایه اچوونې په محلونو کې رایه اچوونکو ته لا ډیر واضح د ټاکلو چانس وړاندې کړي. یوه له اندیښنو څخه په دې اړه چې ګواکې کوم د رایه اچوونې سیسټم به وټاکل شي دا دې چې باید داسې پروګرامونه پلي شي چې سیاسي ګوندونو ته د هر سیسټم اغیزې د هغوی د ټاکنیز لید لوري او د ټاکنیزو سیالیو/ کمپاینونو د تنظیم د څرنګوالي په اړه په بیلابیلو سناریو ګانو کې پوهاوی ورکړي. د بیلګې په توګه، یو غړي ټاکونکی حوزې به اړ شي چې د هغه نوماندانو د پیدا کولو په موخه چې په سیمه ییزه کچه ډیر ملاتړ لري، ډیر تمرکز وکړي.

**د ټاکنیزو بنسټونو او ډموکراټیک بهیر په اړه د عامه باور د کچې د لوړلو پروګرامونو ملاتړ د نړیوالې ټولنې لخوا اړین دی.** نړیواله ټولنه باید پر دولتي کلیدي بنسټونو او په ټولټال ډول پر ډموکراټیکې لړۍ باندې د خلکو د پرځیدلې باور د بیا رغاونې لپاره پر هغو پروګرامونو چې د خلکو د ګډون کچه په حکومتولۍ کې لوړوي لکه په ملي او سیمه کچه د ټاکل شویو استازو لخوا د موکلینو هڅول، باندې تمرکز ولري. سربیره پر دې، هغه پروګرامونه چې له سیمه ییزو بنسټونو سره په هره کچه کې د دولت د کړونو د څارلو په برخه کې مرسته کوي، د دولت د ځواب ورکونې د کچې د لوړوالي لپاره مهم ابزار دي.

## د 2014 کال ټاکنې او وروستي ټاکنيز اصلاحات

د 2014 کال ولسمشريزې ټاکنې د افغانستان د سياسی واک په لېږد کې يوه لويه لړۍ وه او د هيواد په تاريخ کې په لومړي ځل په سوله ييزه او ډموکراټيکه توګه د واک د ليږد په توګه ثبت شوه. او دا چې په ټاکنو کې پراخو درغليو تيرې ټاکنې زيانمنې کړې، سياسی مشرانو او مدني ډلو د ټاکنو مخکې له ټاکنيزو مسؤلينو سره کار وکړ ترڅو ټاکنيزه لړۍ اصلاح کړي. ولسي جرګې داسې قوانين تصويب کړل چې يو نوی حقوقی چوکاټ يې رامنځته کوو او د ولسي جرګې غړو مدني ټولنو ته يې دا وړتيا ورکوله ترڅو د ټاکنيزو بنسټونو د مشرانو په ټاکلو کې ونډه واخلي. ټاکنيزو مسؤلينو او امنيتی بنسټونو د دې بنسټونو ترمنځ د امنيتي پلان جوړونې د پياوړتيا لپاره ځينې اقدامات معرفي کړل او تقريباً د 2014 کال د اپريل مياشتې ټاکنو څخه د يو کال څخه مخکې د درغليو د راکمولو پروګرامونه جوړ کړل. دې موارد او نور اصلاحاتو د سياسي او مدني فعالينو ترمنځ د احتياط سره سره ځينی خوشبينيانې هم رامنځته کړې چې د 2014 کال ټاکنې به له تيرو ټاکنو ښې وي.

د2014 کال د اپريل مياشتې ټاکنې دطالبانو د حکومت د را پرزيدو وروسته او په اساسي قانون کې د ټاکل شوي ټاکنيز تقويم سره سم پنځمې ملي ټاکنې وې. سره له هغه سخت دريځو حملو چې د ټاکنو د ګډوډولو لپاره پلان شوې وې چې د ټاکنو مخکې پړاو ته يې زيان ورسو، خو بياهم 6.5 مليونه رايه اچوونکو په دې ټاکنو کې ګډون وکړ. دا چې د ولسمشريزو ټاکنو هيڅ يو نوماند و نشو کولای چې50 سلنه رايې ترلاسه کړي، دويم پړاو ټاکنې د 2014 د جون په مياشت کې په لاره واچول شوې. د بهرنيو چارو پخواني وزير ډاکټر عبدالله عبدالله چې په لومړي ځل ټاکنو کې يې 45 سلنه رايې ترلاسه کړې وې او د اقتصادي چارو کارپوه او د امنيتی واک د ليږد مسؤل چې 32 سلنه رايې ترلاسه کړې وې، په دوهم پړاو کې يې له يو بل سره ډيرې نږدې سيالۍ ترسره کړې. د رايه اچوونکو د حضور پر سر شخړو او په ټاکنو کې د پراخو درغليو په اړه  ادعاوو يو سياسي او ټاکنيز بحران ته لمن ووهله.

جان کري، د امريکې د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزير د دې ټاکنيز او سياسی بن بست د حل په برخه کې د مرستې کولو په موخه د ولسمشريزو ټاکنو د دواړو نوماندو د کمپونو(دفترونو) ترمنځ منځګړيتوب وکړ او د واک د شريکولو يو هوکړه ليک يې چمتو کړ. په دې معامله کې د ملي او نړيوالو کتوونکو او د نوماندو د څاروونکو او د نړيوال سازمان د ټاکنيزو سلاکارانو په حضور کې د ټولو رايو تفتيش شامل وو. دې ډول تفتيش هيڅ سابقه نه لرله او د کړنلارو په جوړولو کې پيچلتيا او د رايو د ابطال معيارونه د دواړو نوماندو کمپونو ترمنځ شخړې د تفتيش د مودې د څو ځله تمديدو لامل شوو.

د ټاکنو د بې نظميو او د درغليو شکايتونو ته د رسيدګۍ لپاره چې د ډاکټر عبدالله عبدالله د کمپ لخوا مطرح شوي وو، د ملي يووالي حکومت هوکړه ليک د دواړو نوماندانو کمپونه په داسې ډول د قدرت د ويش په برخه کې ژمن کړل چې هر نوماند چې ډيرې رايې ترلاسه کړې هغه به ولسمشر او دويم نوماند به اجرائيه رياست ترلاسه کړي. دې هوکړه ليک د وزارتونو او کليدي بنسټونو په تعيناتو کې البته "برابر" تعينات رانغاړل. د ملي يووالي حکومت هوکړه ليک همداشان د ټاکنيزو اصلاحاتو د ځانګړي کمېسيون د تاسيس، د الکترونيکي تذکرو د صدور، او د ټاکنيزو اصلاحاتو وروسته د چټک پارلماني او ولسواليو د شوراګانو د ټاکنو په لاره اچولو غوښتونکی دی ترڅو د اساسي قانون د لويې جرګې د په لاره اچولو "د دوو کلونو په ترڅ کې" وروسته د اجرائيه رياست د دايمي پاتې کيدو لپاره پريکړه وکړي.

د ملي يووالي حکومت د 2014 کال په سپټمبر کې د يوې اوږدې (اوه ونۍ) تفتيش مودې څخه وروسته تاسيس شو او په پايله کې ډاکټر محمد اشرف غني د ولسمشر او ډاکټر عبدالله عبدالله د اجرائيه رئيس په توګه وټاکل شول. سربيره پردې چې حکومت په يو هيله منده توګه په فعاليت پيل وکړ او د هيواد د پراختيا لپاره يې عمده مسئلې تر پاملرنې لاندې راوستې خو له څوو

سیاسي ترنګلتیاوو سره مخ شو چې د هغه خلکو د ناهیلۍ کیدو لامل شو چې د بدلون د یوې نوي دورې په تمه وو. ولسمشر غني او اجرائیه رئیس عبدالله د خپلو ژمنو د عملي کولو په موخه د امنیتي مسئلو په برخه کې چې د 2014 کال د ټاکنو د ځنډیدو له امله رامنځته شوي وو، د مسلکي او وړ کابینې ټاکلو او د حکومت د عمده برخو په اصلاح کولو یې خپله کاري دوره پیل کړه. مګر د ملي یووالي حکومت د هوکړه لیک د احکامو د پلي کولو په برخه کې لږ پرمختګونه ترلاسه شول. د دې دواړو اشخاصو ترمنځ اختلافات د کابینې د غړو د ټاکلو په برخه کې د ځنډ لامل شو او په دې وجه ملي او ولایتي پوستونه تش پاتې شو او مهمې پراختیایي پروژې په تعلیق کې پاتې شوې، دولتي ادارې له بې نظمیو سره مخ شول. د طالبانو لخوا بریدونو او په کابل او د هیواد په نورو سیمو کې د امنیتي ځواکونو په نښه کولو د دوی لخوا د دې لامل شو چې مدني فعالان او سیاستوال له حکومته وغواړي چې د امنیت د ټینګښت په برخه کې لا ډیر غور وکړي. د دې نیمګړتیاوو په پایله کې، د غني او عبدالله ملاتړو لږ لږ خپل ملاتړ بیرته د ملي یووالي له حکومت څخه واخیست او د دوی مشروعیت یې تر پوښتنې لاندې راووست.

د ملي یووالي حکومت هوکړه لیک د پارلماني ټاکنو او په هیواد کې د ولسوالیو شوراګانو د لمړني ټاکنو لپاره د ځانګړو احکامو رانغاړونکې ده. د اوسني ولسي جرګې د خدمت د پای مودې په رارسیدو سره د 2015 کال د جون په میاشت کې، ولسمشر غني د دې دورې د تمدید په اړه تر هغه وخته چې د ټاکنو د په لاره اچولو امکانات برابر شي، یو فرمان صادر کړ. د ملي یووالي د حکومت د دې هوکړه لیک ترڅنګ د ټاکنیزو اصلاحاتو ځانګړی کمېسیون د 2015 کال په مارچ کې تاسیس شو او د اصلاحاتو د وړاندیزونو وړاندې کولو دنده ورته وسپارل شوه. ولې د دې کمېسیون ریاست او غړو د 2015 تر جولای پورې د ولسمشر او اجرائیه رئیس ترمنځ د اختلافاتو له وجې په کار پیل ونکړ. ولسمشر د 2015 کال په سپټمبر کې د کمېسیون د یوولسو وړاندیزونو څخه د اوو وړاندیزونو پر بنسټ، د ټاکنو د قانون او د ټاکنو د خپلواک کمېسون او ټاکنیزو شکایتونو د تشکیل، دندو او صلاحیتونو په اړه فرمانونه صادر کړل چې د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون د جوړښت ټاکونکی دی. ولسي جرګې او مشرانو جرګې په ترتیب سره په دسمبر 2015 او جنوری 2016 کې دا فرمان رد کړ. 3 په همدې جنوري کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون اعلان وکړ چې پارلماني ټاکنې به د 2016 د اکټوبر په 15مه ترسره شي. دا امر د افغانستان د هغه سیاسي او مدني ټولنې رهبرانو له نیوکو سره مخ شو چې د ټاکنو د په لاره اچوولو دمخه د لویو اصلاحاتو غوښتونکي وو.

ولسمشر د 2016 کال په مارچ کې نوي فرمانونه او اصلاح شوی د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون صادر کړ. دا ځل هم د ولسي جرګې لخوا رد شو مګر مشرانو جرګه دا قانون تائید کړ. په پایله کې، د ټاکنو د قانون نوې نسخه د پارلمان د ژمني رخصتیو پر مهال په اجرایې حکم سره صادر شو ( د افغانستان د اساسي قانون 79مه ماده اجازه ورکړې چې د پارلمان د رخصتیو او یا بیړني حالت پر مهال، له پارلمان څخه پرته تقنیني فرمانونه صادر شي). 4 نوی قانون، د ټاکنو قانون او د مخکني تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون عناصر سره یوځای کوي او د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون د غړو غوراوي د یوې ګډې کمېټې لخوا چې د سترې محکمې، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون او د اساسي قانون پر پلي کولو د څار کمېسیون استازي او د هغه مدني ټولنې استازي چې د ټاکنو او ښځو د حقونو په برخه کې کار کوي پکې شتون ولري، غوښتونکی دی. د رایه اچوونې د مرکز پر بنسټ د رایه اچوونکو نوملړ باید ترتیب شي، هم راغلی دی. دا بدلونونه د 2004 کال راهیسې د پام وړ بدلونونه ګڼل کیږي.

3 د افغانستان د اساسي قانون د 109 مادې بر بنسټ، د ټاکنو د قانون تعدیل نه باید د ملي شورا په اجندا کې د په اخر کاری کال کې ځای پرځای شي. ولسمشر غني د 2015 کال د جون په میاشت کې د پارلمان د کاري مودې د تمدیدیدو په اړه تر هغه مهاله چې د ټاکنو په لاره اچول ممکن شي، یو فرمان صادر کړ. دې لپاره چې د ټاکنو کره نیټه مالومه نه ده نو پارلمان کولای شول چې د ټاکنو د قانون په اړه په دې وخت کې رایه ورکړي.

4 برسیره پر دې، هغه مهال چې کمېسیون د ټاکنو نیټه د 2016 کال د اکتوبر میاشت وټاکله نو دلته بیا د اساسي قانو 109مه ماده نافذیږي هغه دا چې پارلمان اوس "د کاري مودې وروستی کال" کې شتون لري.

د ټاکنو نوی قانون هم د ټاکنو خپلواک کمېسیون په دې اړه وړاندیزونو ته اړ باسي چې آیا اوسني ځوو غړي ټاکونکي ټاکنیزې حوزې پارلماني ټاکنو لپاره باید په کوچنیو حوزو تقسیم شي او که نه، او که چیرې هو، څرنګه؛ د ټاکنو په نوي قانون کې دا چې د 2016 په سپټمبر کې په بروکسل کې د نړیوال تمویل کوونکو له کنفرانس ځوو ورځې دمخه، د غوراوي کمېټه جوړه شوه او د ټول هېواد ځخه یې د وړاندیزونو د غونډولو غونډه پیل کړه. د نومبر په 9مه د 700 ځخه د ډېرو وړاندیزونو د کتنې وروسته، کمیټې لمړی 21 کسیز نوملړ د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د اوو کرسیو او 15 کسیز نوملړ د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون د پنځو کرسیو لپاره په پام کې ونیول. په ورستیو اونیو کې او وروسته له دې چې حکومت د پارلمان او د دوی رایه د ځوو وزیرانو د حذف لپاره په کره توګه وارزوله، ولسمشر غني او اجرائیه رئیس عبدالله د ټاکنیزو اصلاحاتو د ساتلو لپاره سره متحد شول او په یوځای ډول یې د غوراوي د کمېټې لخوا د وړاندیز شویو وروستي نوماندانو سره مرکه وکړه. د کمېسیونو نوي غړي د نومبر په 22مه وټاکل شول او اعلان شول.

د ټاکنیزو اصلاحاتو پر سر په دې اړه د بحث خبرې تودې شوې چې په افغانستان کې به هغه سیال سیاسي ګوندونه چې په عام ډول سره مګر نه په منحصر ډول سره په قومي کړیو کې بنکیل دي، پر سیاسي قدرت څرنګه سیالي کوي. تر دې ځایه خو داسې تر سترګو کیږي چې د ټاکنیزو سیستمونو به اړه بحثونه د حذف لورې ته اړول کیږي. د بیلګې په توګه، د لیږد نه وړ واحدې رایې اچوونې سیستم په 2004 کال کې د بیلابیلو لاملونو لکه د سیستم ساده والی او پر سیاسي ګوندونو د هیواد په کورني جګړو او یا له روسانو سره په جګړه کې د لاس لرلو له وجې، د خلکو د باور نیټه کچې له کبله وټاکل شو. ولسمشر حامد کرزي داسې یو سیستم غوښته چې خلک په ولایتي حوزه کې خپله نوماند ته نیغ په نیغه رایه ورکړي نه ګوند ته، چې د نوموړي همدا غوښتنه د اکثرو پښتنو د موضع نیونې لامل شو. د ښاغلي اندریو رونالیدز چې په هغه وخت کې په افغانستان کې د ټاکنیزو اصلاحاتو سلاکار وو په اند د نه لیږد وړ واحدې رایه اچوونې سیستم "د نورو شته سیستمونو ترمنځ لږې نیمګړتیاوې درلودې".[5]

روښانه ده چې هر ټاکنیز سیستم خپلې ګټې او ضررونه لري. دا پلاوی په دې باور دی چې ښه طریقه داده چې په پیل کې، د ټاکنیز سیستم اصلي موخه و پیژنو. د بیلګې په توګه که چیرې د هیواد د ماتیدونکی سیاست په شرایطو کې تر ټولو لویه اندیښنه د قومونو تر منځ د ائتلافونو او همکاریو پیاوړی کول او د سیاسي ګوندونو یو پوخ سیستم جوړول وي نو د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړی کمیسیون له وړاندیز سره سم، د ګوندیز نوملړ استازیتوب سیستم یا تناسبي استازیتوب به مناسبه لاره وي. له بله پلوه که چیرې اصلي موخه خپلو موکلینو ته د ټاکل شویو چارواکو د حساب ورکونې لوړوالی وي نو کوچني ټاکنیزې حوزې او اکثریتي سیستم (هرچا چې ډیرې رایې ترلاسه کړې هغه ګټونکی دی) کیدای شي تر ټوله غوره لاره وي. په خواشیني سره باید ووایو چې تر اوسه پورې د حساب ورکونې او د قومي تربنګلتیاوو د لرې کولو رقابتي موخو – او ددې دواړو موخو د ګټو او ضررونو - اړوند عام او پراخ بحثونه ترسره شوي نه دي.

تر بحث لاندې زیاتره اصلاحات لکه د ولسوالی د شوراګانو د واحد غړي ټاکلو حوزې د ولایتي پولو تعیینولو ته اړتیا لري چې د هغه ټولنې د برابرولو لپاره باید سرشمیرنه ترسره شي چې له هغې ځخه استازیتوب کیږي. د پولو ټاکل جدي سیاسي پوښتنې راولاړوي لکه ایا له یو شان حوزو ځخه ملاتړ وشي او یا له مختلفو حوزو ځخه؟ آیا قومي ډلې او څړځایونه باید سره وویشل شي او که نه؟ سربیره پردې تر اوسه پورې داسې یوه موافقه نده شوې چې څرنګه باید په ښه توګه د رای اچوونکو د پیژندنې کارټونه جوړ او وویشل شي. هغه خلک چې دا پلاوی ورسره وکتل دا خبره یې ومنله چې که چیرې د رای اچوونکو د نوم لیکلو نوی سیستم او د ټاکنیزو حوزو د پولو ټاکل پلي شي نو دا په ډېره سخته وي ځو د 2017 کال په مني کې ټاکنې ترسره شي. خو زیاته لیوالتیا شتون لري چې تر ممکنه حده پورې په چټکه توګه اصلاحات رامنځته شي او د ټاکنو د

---

[5] اندرو رینالدز: "اوسني ټاکنیز سیستمونه: د افغانستان نادر قضیي"، د ډموکراسی ژورنال، اپریل 2006

ترسره کولو لپاره یوه واقعي نیته و ټاکل شي چې دا د ملي یووالي د ژمنو د پلي کولو په لور یو لازمي ګام دی.

## کتنې
## د ملي یووالي حکومت

هغه مهال چې د ملي یووالي حکومت (د تیرو دوو کلونو له اختلافاتو او شخړو سره په بشپړ ډول په ټکر کې وو) او په بې ساری توګه د یووالي او انسجام کچې ته رسیدلی و، نو دغه پلاوی په کابل کې حاضر وو. له جمهور رئیس محمد اشرف غنی او اجرائیه رئیس ډاکټر عبدالله عبدالله سره د پلاوي په بیلابیلو غونډو کې دواړو د ټاکنیزو اصلاحاتو د پرمختګ په هکله خپله خوښي و ښودل او د بروکسل کنفرانس او یو د بل تر منځ اړیکو ته یې اشارې وکړې. داسې بریښي چې د یووالي دا حس د اجرائیه قوې او ولسي جرګې ترمنځ د جاري شخړې د شتون له کبله رامنځته شوی چې پخپلو کارونو کې د پاتې راتلو له کبله له دندو څخه د کابینې د څو غړو د لرې کولو په برخه کې د پارلمان پریکړې، دا شخړې لا زیاتې کړې.

سره له دې چې د کابینې وزیزانو ارزونه د پارلمان د قانوني دندو څخه دی، خو بیا هم پلاوی دې ټکې ته متوجه شو چې د ایستیضاح ددې ځانګړی دور رهبران او په پایله کې وزیرانو ته د بې باوری رایې څرنګه له نورو لاملونو څخه اغیزمن شوي دي. د رسنیو رپورټونه په دې برخه کې د پارلمان د غړو داسې نظریات خپرې کړې چې ګوندې تر ارزونې لاندې نیول شوي وزیران په دې نه دي توانیدلي چې خپلې پراختیایي بودجې مصرف کړي ځکه نو د دوی کارونه کمزوري او قانع کوونکي نه دي. د هیئت غړي د خپلو غونډو په ترڅ کې په دې ټکي هم پوه شول چې وزیرانو ته د بې باوری رایې ورکول د ملي یووالي حکومت د کارونو زیانمنول او د ټاکنو ځنډولو په خاطر پر حکومت باندې د فشار راوړلو موخه ترسره کیږي څو له هغو وزیرانو څخه د رشوت اخیستلو زمینه برابره شي چې غواړي پیسې ولګوي څو پخپلو پستونو کې پاتې شي.

د سیاسي اپوزیسیون غړي چې "د افغانستان د حراست او ثبات شورا" یې جوړ کړی، پلاوي ته وویل چې د ملي یووالي د حکومت پر وړاندې د ننګونو او د هغې د کمزورتیاوو سره سره، ددې لپاره کوم بل منطقي بدیل شتون نلري – او د ملي یووالي حکومت باید خپله پنځه کلنه دوره پای ته ورسوي. دا د کال په لومړي سر کې د دوی د موضع بدلون ښیي چې د ملي یووالي حکومت د هوکړه لیک د دویم کال تر رارسیدو وړاندې، د اپوزیسیون ځنې مشران د دې غوښتونکي وو څو د ملي یووالي حکومت کار دې پای ته ورسیږي. هیئت ته وویل شو چې دغه شورا او د ملي یووالي حکومت په اوس وخت کې سره په خبرو اترو بوخت دي.

داسې ښکاري چې ځنې سیاسي فعالین چې ظاهرا یو اقلیت دي خو بیا هم د ملي یووالي حکومت مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي ځکه چې دولت په دې نه دې توانیدلی څو د دوو کلونو په موده کې سراسري ټولټاکنې او د اساسي قانون لویه جرګه دایره کړي. دا خلک د زیاتره هغو سیاسي خلکو پر خلاف چې وایي د ملي یووالي حکومت او د جمهوري ریاست له کاري دورې سره برابرې دي، په دې نظر دي چې د ملي یووالي حکومت یواځې یوه دوه کلنه کاري دوره لري. د افغانستان پخوانی ولسمشر حامد کرزی وویل داچې مور نشو کولای چې د قانون له نظره د اساسي قانون جرګه د ولسوالو شوراګانو د غړو په نشتون کې ترسره کړو او د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې لا هم سازمان ورکولو ته اړتیا لري، نو د عنعنوي لویې جرګې په لاره اچول باید د ملي یووالي حکومت د ځای نیولو لپاره د یوې مشروعې لارې په توګه په پام کې ونیول شي.

د اساسي قانون لویه جرګه چې د ملي یووالي حکومت د تشکیل په هوکړه لیک کې راغلی دی، کولای شي چې د لویو مسئلو اړوند بحث لپاره موکه برابره کړي چې د اجرائیه رئیس مقام له صلاحیتونو څخه پورته دي که څه هم دا کار د څو دوامدارو مسئلو لکه په افغاني ټولنه کې د ښځو او دین ونډه او د مدني اوسیاسي حقونو ساتنې اړوند احتمالي ستونزو په هکله بحث له پاره به هم لاره پرانیزي. له سیاسي او مدني رهبرانو سره د مشورو په ترڅ کې په ډاګه شول چې د 2019 کال تر انتخاباتو وړاندې د لویې جرګې دایرولو څومره قوي دی او دې کار لپاره څومره لیوالتیا

شتون لري. څه ناڅه ټول هغه خلک چې پلاوی ورسره مرکې کړی په دې بوخت دي چې څرنګه په لومړي پړاو کې باید د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره امکانات برابرې شي او بیا د اوسنی جمهور رئیس په پاتې وخت کې ملي ټولټاکنې ترسره شي.

سربیره پردې امکان لري چې د اساسي قانون د لویې جرګې دایرول د عمده سیاسي ځواکونو په ګټه نه وي. له پلاوی سره مرکه کوونکي خلک وویل چې دولت کولای شي د نورو خلکو د شاملولو په برخه کې خپله ژمنه له اپوزیسیون څخه د ډیرو شخصیتونو په شاملولو سره ترسره کړي. له بلې خوا کیدای شي اپوزیسیون باور وکړي چې که چیرې اساسي قانون د جمهور رئیس د دایمي ساتنې لپاره تعدیل شي نو امکان لري چې دوی د تل لپاره په حکومت کې د دویمي مقام په توګه و پیژندل شي. په هر صورت داسې ښکاري چې په اوس وخت کې د لویې جرګې دایرول به د هیچا د کارونو په لومړیتوب کې ځای نلري.

د مدني ټولنې ډیري رهبران چې پلاوي ورسره مرکه درلوده، د ملي یووالي حکومت د کارونو په هکله یې نیوکې درلودلې او د ځانګړی اصلاحاتو د امکان اړوند مرسته یا قانوني کولو په برخه کې خوشبین نه وو. خو له هغو څخه یو هم د ملي یووالي حکومت پر ځای یو ښه بدیل نه درلودل. دا هم په ګوته شوه چې د ملي یووالي حکومت د داخلي اختلافاتو سره سره بیا هم په دې توانیدلی دی چې دوام وکړي او هیواد له ټوټې ټوټې کیدو څخه وژغوري. د مدني ټولنې مشران د رای ورکولو د یو سیستم په هکله ځانګړی ښه وړاندیز نه درلودل خو په دې سره هم نظر وو چې د لیرد نه وړ واحدې رایې اچوونې سیستم به د افغانستان له ډموکراسی سره دومره مرسته ونکړي. همدا راز هغوی وویل چې د ټاکنیزو اصلاحاتو اصلي موخه باید په پارلمان کې د وړ نوماندانو د ټاکل کیدو تسهیل وي نه د قدرت دلالان.
سره له دې چې د ملي یووالي په اوسنی حکومت کې نسبي توازن خورا هڅوونکی دی او کیدای شي په راتلونکي کې د لازیاتو مرستو لامل وګرځي، خو ماتیدونکی دی او امکان لري چې دا یووالي امنیتي او ټاکنیزو اصلاحاتو کې د نیمګړتیاوو او یا د ملي لومړیتوبونو پر سر اختلافاتو تر اغیزې لاندې راشي. پلاوی تصدیق کوي چې د هیواد رهبران تصمیم لري چې دولت سره یو موټی وساتي او د ترمپ تر مشری لاندې د متحده ایالتونو په شمول د تمویل کوونکو هیوادونو ملاتړ له ځانه سره ولري.

## ټاکنیز اصلاحات

د ملي یووالي حکومت، ددې حکومت د هوکړه لیک تر لاسلیک کیدو دوه کلونو څخه د زیاتې مودې وروسته د 2016 کال د نوامبر په 22 مه نیټه د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون غړي و ټاکل شول څو د پارلماني ټاکنو د بهیر لپاره د یو پروګرام جوړول پیل کړي، چې ټاکنیز اصلاحات ددې هوکړه لیک له شرایطو څخه یو شرط و. په فني کچه له سرخوړی پرته د تعییناتو بهیر په روڼ ډول ترسره شو. هغه نوماندان چې د تعلیم او کاري تجربې معیاري کچه یې پوره کړي وو، د هغه کمیټې له خوا یې صلاحیتونه تثبیت شول چې د افغانستان د آزاد او عادلانه ټاکنو بنسټ (فیفا)، د ښځو د حقونو یو فعال او د سترې محکمې استازو، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، او د اساسي قانون له پلي کیدو څخه د څارنې کمیسیون له غړو څخه جوړه شوې وه. د ټاکنو په خپلواک کمیسیون کې د 21 او د ټاکنیزو شکایتونو په کمیسیون کې د 15 نوماندانو نوملړ په خپل وخت سره د ملي یووالي حکومت ته وړاندې شول او د ولسمشر محمد اشرف غنی او اجرائیه رئیس عبدالله عبدالله په ګډون یو پلاوی د ورستیو ټاکنو په موخه له هر نوماند سره مرکې وکړې.

خو د ټاکنو ترسره کول ډیر یو سیاسي کار دی او د ملي یووالي حکومت ته د ورپیژندل شوي نوماندانو څو ناظرین به داسې نظرونه ورکول چې ګوندې دوی تجربه نلري. ډیری له دې نوماندانو څخه د مدني ټولنې یا سیاسي رهبرانو لپاره پیژندل شوي کسان نه وو او لږ شمیر یې په لوړو پستونو کې د ټاکنو اړوند تجربې درلودې. هغه کمشنران چې له پلاوی سره تر مرکې وروسته ګومارل شوي وو هم زیاتې تجربې نه درلودې. دا کار ځنې اندیښنې رامنځته کړی په داسې حال

کې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون کېدای شي له لازم ورتیا څخه برخمن وي خو په ټولیزه توګه ممکنه ده د ټاکنیزو مهمو تصمیمونو په هکله د سیاسي فشار پر وړاندې ودریدل به د دې کمیسیونونو لپاره سخت کار وي. په ځانګړې توګه د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید د ټاکنیز سیسټم، ټاکنیزې حوزې او د رای اچوونکو د نومونو د ثبتولو په برخه کې پریکړې وکړي. دا ټول لانجه منې مسئلې دي چې د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړې کمیسیون له خوا مخکې له مخکې مطرح شوي دي او په هلکه یې په کابینه او ملي شورا کې بحثونه پایلې ته نه دي رسیدلي.

## ټاکنیز سیسټم او ټاکنیزې حوزې

د یو نوي ټاکنیز سیسټم ټاکل ملي یووالي د حکومت په هوکړه لیک کې د اصلاحاتو یو اساسي لومړیتوب و. کله چې د ټاکنیزو اصلاحاتو ځانګړی کمیسیون تیر کال دا مسئله پیل کړ، د تناسبي استازیتوب سیسټم ملاتړ کوونکو غړو او هغه لږکي (اقلیت) تر منځ اختلافات رامنځته شو چې د واحد غیري ټاکونکې حوزې (SMD) یې غوره ګڼل. تناسبي استازیتوب د سیاسي ګوندونو په ګټه دي او د واحد غیري ټاکلو حوزې د د هغو ډلو په شمول چې د ولایت په پرتله په ټیټه کچه چې امکان لري په لویو ټاکنیزو حوزو کې کمزوری عمل وکړي د کوچنیو ډلو د کرسیو د خوندي ساتلو یا ګټو لپاره مرسته کوي. د روغې جوړې اړوند پریکړه چې د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړی کمیسیون له خوا وشوه د یو نوي مختلط ټاکنیز سیسټم رامنځته کول و چې په ماهرانه توګه څو بُعدي استازیتوب ګڼل کیده. دا سیسټم د سیاسي ګوندونو لپاره ځنې ځانګړی شوی کرسی او په ټاکنیزو حوزو کې د افرادو تر منځ سیالی لپاره د ځنو ازادو کرسیو درلودونکي و. دا کار د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون د هغو دوو غړو د رضایت لامل و نګرځید چې له یوې توکمیزې ډلې څخه وو او د واحد غیري ټاکلو له حوزو څخه یې ملاتړ کول او د اعتراض په توګه یې د ټاکنیزو اصلاحاتو په ځانګړې کمیسیون کې له ګډون څخه لاس واخیست. د ټاکنیزو اصلاحاتو په ځانګړی کمیسیون کې دواړه مخالف بلاکونه د مقابل لورې د پلانونو د عملي کیدو د امکاناتو اړوند پوښتنې وکړې. یوه ډله به ویله چې سیاسي ګوندونه په کافي اندازه وده نه ده کړې څو د ګوندونو پر بنسټ ولاړ سیسټم کې ګډون و کړي او بله ډله به ویله چې د یوې سرشمیرنې پرته د ټاکنیزو حوزو بیا تعیینول به ډیر ستونزمن کار وي. پس له دې چې د ملي یووالي حکومت صادر شوي فرمانونه د ملي شورا له خوا رد شول، هغه اجرایي فرمان چې د ټاکنو نوي قانون یې وضع کړ، ونښود چې د ملي یووالي حکومت د واحد غیري ټاکنیزو حوزو څخه ملاتړ کوي. چې دا کار د ډ ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړې کمیسیون د دوو غړو وړاندیز څرګندونه کوي چې په کمیسیون کې یې له ګډون څخه لاس اخیستی وو او د هغو خلکو د ناهیلی سبب ګرځي چې متفاوت نظر یې درلودل.

د ټاکنو د قانون وروستی نسخه د لیږد نه وړ واحدې رایې اچوونې سیسټم د خوندي ساتلو غوښتونکې ده خو د واحد غیري ټاکلو حوزې یا څو کرسیو اړوند پریکړه یې د ټاکنو نوي خپلواک کمیسیون ارزونې ته پریښی. د ټاکنو قانون د دویمې مادې پربنسټ، د ټاکنو نوي خپلواک کمیسیون باید د دریو میاشتو په موده کې فني ارزونې ترسره کړي، د پارلماني ټاکنو لپاره دې ټاکنیزې حوزې وټاکي او د ټاکنیزو حوزو د پولو د ټاکلو لپاره پلانونه جوړ کړي. د سیاسي او مدني ټولنې د رهبرانو له خوا اندیښنې څرګندې شوې چې د ټاکنو نوي کمیسیون به څرنګه وکولای شي چې د سازماني اړتیاوو پوره کولو، استخدام او تدارکاتو د فعالیتونو د ترسره کولو سره سره، داسې یوه پیچلې موضوع په یوه ټاکلي وخت کې مدیریت کړي. په ټاکنیز سیسټم کې بدلونونه او د ټاکنیزو حوزو پولې به په 2017 کال کې د یوې باوري ټاکنو د سازمان ورکولو په برخه کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په فني توانمندی باندې اغیز ولري. د دې بدلونو د پراخوالي په پام کې نیولو سره، څو افغان او نړیوال کارپوهان چې ورسره مرکې وشوې داسې وړاندوینه کوله چې په 2018 کال کې د ټاکنو په لاره اچول امکان لري. خو لږ شمیر کسان داسې وړاندوینه کوله چې د ولسمشریز، پارلماني او ولایتي شوراګانو ټاکنې به په 2019 کال کې ترسره شي، په دې معنا چې د ولسمشریز او پارلماني ټاکنې به دواړه یو ځای ترسره شي.

داسې یو پراخ نظر موجود و چې د یو داسې ټاکنیز سیستم اړوند سم ځواب نشته چې په افغانستان کې د ټاکنو اړوند ټولې ننګونې هوارې کړي او تر څو چې د ټاکنې څو دورې تیرې نه شي د ټاکنیزو سیستمونو ګټې نه معلومیږي. ډیرى هغه خلک چې دا پلاوى ورسره مرکې کړي دي یو تناسبي سیستم غوره ګڼي خو د داسې کس پیدا کول ډیر ستونزمن کار دى چې په روښانه توګه د ټاکنیز سیستم اصلاحات او روښانه لید لورى تشریح کړي پرته له دې چې د درغلی پر مخنیوى او کموالی، او د پایلو اړوند لږې خبرې وکړي. همدا راز دا روښانه نه ده چې سیاسي رهبران - پرته له هغه لږ شمیر څخه چې په دې مسئله یې تمرکز کړي - د خپل ځان د ټاکل کیدو لپاره د بیلابیلو سیستمونو احتمالي ګټې او ستونزې محاسبه کړى وي. سربیره پردې د مدني ټولنې استازي وویل مدني روزنې او د بیلابیلو ټاکنیزو سیستمونو اړوند د عامه پوهاوى کمپاینونه بسیا نه دي او په ځانګړې توګه هغه کسان چې روزنیز فعالیتونه ترسره کوي پخپله په دې برخه کې اړینه پوهه نلري.

دې پلاوي د ښځو او ځوانانو له هغو ډلو سره هم مرکې درلودې چې د هیواد په ټولو ولایتونو کې شبکې او غړي لري او پخوا وختونو کې توانیدلي دي چې په مدني روزنیزو پروګرامونو او د راى ورکوونکو په پروګرامونو کې مرسته وکړي. سره له دې چې دوى په دې توانیدلي دي چې د ټاکنیزو اصلاحاتو اړوند خبرو اترو کې د ټولنیزو رسنیو او په ولایتونو کې د سیمه ایزو غونډو له لارې کې ملاتړ وکړي خو د مالي مرستو نشتوالی تر ډیره بریده د هغوى فعالیتونه محدود کړي دي. حال دا چې پاڼښت د مرسته کوونکو او مدني ټولنې د ډلو دوه اړخیزه موخه ده خو تر اوسه پورې د مدني ټولنې ادارو لپاره چې د حکومت دارى او ډموکراسۍ پر مسایلو باندې متمرکزې دي، د پاېښتیزو داخلي عوایدو د ترلاسه کولو لپاره هیڅ یوه بیلګه شتون نلري. که چیرې د مدني ټولنې لازیات مشارکت یوه پراختیایي موخه ده، نو ددې اوږدمهالې موخې د ملاتړ لپاره د تمویل کوونکو له خوا باید د ډاډ وړ مالي مرستې ځانګړى شي.

*د راى اچوونکو نوم لیکنه*

یو له هغو ضررونو څخه چې افغانستان په دوامداره توګه په ټاکنو کې له هغې څخه زیانمن شوى دى، د راى اچوونکو سره د راى اچولو د زیات شمیر کارټونو شتون دى. په تیرو ټاکنو کې د کارټونو د ویش اړوند ارقامو پر بنسټ داسې اټکل کیږي چې په داسې هیواد کې چې 13 ملیونه رایه ورکوونکي لري تر 21 ملیون ډیر د راى اچونې کارټونه ویشل شوي دي ځکه چې افغانستان د راى اچوونکو د نوم لیکنې لپاره یو پراخ او هر اړخیز سیستم نلري. په تیرو ټاکنو کې د ګډون کوونکو د کچې کره ارزونه ممکنه نه وه او په 2014 کال کې د راى اچوونکو د شمیر اړوند غلط اټکل له کبله د پاڼو د کموالی د یوې ستونزې په بڼه رامنځته شوه.

د ټاکنو د نوي قانون پر بنسټ د راى اچونې د هر مرکز د راى اچوونکو نوملړ باید جوړ شي او تر راتلونکي ملي ټاکنو وړاندې، باید د راى اچوونکو د نوم لیکنې په برخه کې کوټلي ګامونه پورته شي. د ولسمشر غني په ګډون، ځنې کسان چې دا پلاوى ورسره مرکې درلودې، د هغو لارو چارو په لټه کې دي چې وکولاى شو ددې پیچلي کار د ترسره کولو لپاره له ټکنالوژى څخه ګټه پورته کړو. نور خلک په نا امنو او د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې د راى اچوونکو د نوم لیکنې او د ټاکنو د ترسره کولو څرنګوالی ته د شک په سترګه ګوري. د راى اچوونکو د کره نوم لیکنې ستونزه به د بیرته ستنیدونکو مهاجرینو د شمیر په اټکل کولو سره – چې شمیر به یې تر 2016 کال پورې یو ملیون تنو ته ورسیږي او تر هغه وروسته کال کې به څو سوه زره تنو ته به ورسیږي – لا پسې زیاتې شي.

د راى اچوونکو تر نوم لیکنې وروسته اقدامات و نه شو کولاى څو تیروتنې اصلاح کړي ځکه چې ډیر وروسته پیل شو او له بله پلوه په لرې پرتو سیمو کې کمزورى امنیت په هغه کې مزاحمتونه رامنځته کړ او همدا راز د نوم لیکنې د مخکینۍ بهیر څخه د معلوماتو د اصلاح لپاره هیڅ کوم

میکانیزم شتون نه درلود. داسې نه برېښي چې د 2017 کال د ټاکنو لپاره دا ټولې ستونزې هوارې شي. که چیرې د اصلاحاتو د پرمخ بیولو په پرتله د ټاکنو د وخت لپاره د لومړیتوب ورکولو په برخه کې کومه پریکړه وشي نو باید د رای اچوونکو د نوم لیکنې لپاره د یو نوي سیستم په رامنځته کولو په جدي توګه غور و شي څو وکولای شو د 2019 کال تر ټاکنو وړاندې یې ظرفیت لوړ او په ښه توګه سره نوی شي. هغه ټاکنې چې د لرې مودې لپاره ورته پروګرام جوړېږي نو په کره توګه د نوم لیکنې لپاره موکه برابروي چې د پایلو په برخه کې به لانجې کمې وي. همدا راز پلاوی ته معلومه شوه چې آن د هغو رای اچوونکو د نوملړ پرته چې په ځانګړې توګه د هر مرکز لپاره برابرې شوي دي، بیا هم د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د افغانستان دولت کولای شي هغو معلوماتو ته مراجعه وکړي چې د افغانستان د مرکزي احصائیې په اداره کې شتون لري او کولای شي د را اچوونکو شمیر تعیین او په پایله کې د د مراکزو او رای اچونې د پاڼو شمیر په کره توګه تعیین کړي.

## امنیت او د سولې بهیر

د سولې د بهیر او د هغې د پرمختګ د څرنګوالی اړوند د افغانستان د سیاسي با نفوذه خلکو ترمنځ هیڅ موافقه شتون نلري. د هغه هوکړه لیک اړوند چې د 2016 کال د سپتمبر په 22 مه نیټه د افغانستان حکومت او د اسلامي حزب د ځانګې مشر ګلبدین حکمتیار تر منځ لاسلیک شو، بیلابیل غبرګونونه لیدل کیږي. د افغانستان دولت ادعا کوي چې دا هوکړه لیک حکمتیار ته د هغو اعمالو په وړاندې خوندیتوب ورکوي چې د افغانستان د کورنیو جګړو په دوران کې مرتکب شوی دی، او ددې لپاره چې نور نظامیان له جګړې لاس واخلي او روغې جوړې ته وهڅول شي، جوړ شوی دی. د سولې دا هوکړه لیک د حکمتیار او د هغه ملاتړو لپاره د ملي پالیسیو د جوړولو، حکومتي ادارو او امنیتي او دفاعي ځواکونو په جوړولو کې د مشارکت امکان برابروي. د یادونې وړ ده چې د سولې هوکړه لیک د تناسبي استازیتوب ټاکنیز سیسټم غوښتونکی دی چې د ټاکنو له اوسنی قانون سره په ټکر کې ښکاري.

ځنې خلک چې دا پلاوی ورسره مرکې درلودې داسې فکر کول چې که چیرې دا هوکړه لیک په اغیزناکه توګه پلي شي کولای شي چې له طالبانو سره د تعامل د یو نمونې په توګه و کارول شي – که چیرې له حکمتیار سره دا هوکړه لیک بریالی شي نو کیدای شي چې طالبان به هم ددې کار ترسره کولو لپاره لیوالتیا و ښیي. نور خلک په دې باور وو چې د حکمتیار بیا راتګ به په سیاسي بهیر کې خنډ رامنځته کړي او په اسلامي حزب کې به شک او تردید رامنځته کړي چې د یوې ثبت شوې او قانوني ادارې په توګه تر یوې لسیزې زیاتې مودې که تقریباً په ټولو ولایتونو کې فعالیت درلود او په وروستیو کلونو کې د اسلامي حزب د مدرن کولو لپاره یې د همغږی هلې ځلې درلودې. داسې اندیښنې هم شتون لري چې د حکمتیار بیا راتګ کولای شي حزب د لازیات محافظه کاری لور ته بوزي او اصول او همغږی یې له ننګونې سره مخ کړي. له دې سره سره ځنې نور خلک په دې نظر وو چې دا چې هغه تر 20 کلونو زیاتې مودې راهیسې په تبعید کې ژوند تیروي، کیدای شي چې په کوچنی ډلې باندې نفوذ ولري. ډیری مدني فعالین د حکمتیار په عفو کولو سره په قهر دي او داسې فکر کوي چې د سولې داسې هوکړه لیکونه د معافیت د فرهنګ تخم شیندي.

په تیرو دوو کلونو کې حکومت هڅه کړی چې په ټول هیواد کې امنیت تامین کړي. له دې سره سره چې افغان دفاعي او امنیتي ځواکونو د خپل ظرفیت لوړه کچه ښودلی، خو بیا هم د هیواد ځنې برخې د طالبانو تر ولکې لاندې راغلي دي او اسلامي دولت (داعش ) د یو جدي ګواښ په توګه په څو ولایتونو کې را ښکاره شوی دی. افغان دفاعي او امنیتي ملي ځواکونه د ناتو له خوا تخنیکي ملاتړ او روزنه تر لاسه کړی او د قاطع ملاتړ ماموریت چې په 2014 کال کې د امنیت لپاره د مرستې نړیوال ځواکونو (ایساف) د ماموریت تر پای ته رسیدو وروسته پیل شوی، ادامه لري. خو قاطع ملاتړ یو غیر جنګی ماموریت دی او په هغه کې د ناټو د سازمان 13000 کار کوونکي او غړو هیوادونو څخه شامل دي (د ایساف د ځواکونو څلورمه برخه په افغانستان کې د 2014 کال د

ټاکنو پرمهال د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته د لوژستیکي مرستو او دفاعي او امنیتي ځواکونو ته ستراتیژیکو مرستو د برابرولو په برخه کې مهم رول لوبولی و).

ځنې خلک چې پلاوی ورسره مرکې درلودې د ټاکنو د ترسره کولو په برخه کې د امنیت ستونزو د نه رامنځته کیدو په هکله خوشبین وو ځرنګه چې یو له هغو څخه وویل چې د 2014 کال ټاکنې د اوړي د جنګونو په موسم کې ترسره شو خو بیا هم د رای اچوونکو د ګډون کچه لوړه وه. که څه هم ډیر خلک پلاوی ته وویل چې کمزوری امنیتي وضعیت به د ټاکنو پرمهال ویش باندې اغیز ولري او په ناامنو سیمو کې به رای اچوونکو ته رای اچونه ګرانه کړي. ځنې اړخونو د ټاکنو دوراني ډول (Rolling Elections) مطرح کړ چې په هغه کې ټاکنې په بیلابیلو نیټو په بیلابیلو سیمو کې ترسره کیږي او دا کار ددې سبب ګرځي چې د ټاکنو په هره ورځ کې د امنیتي ځواکونو زیات شمیر کار کوونکي حضور ولري. ځنې نور خلک وویل چې د رای اچونې د نویو کارټونو پرته به دغه ډول ټاکنې له درغلی څخه اغیزمنې شي. د بیلګې په توګه هغه افغانان چې په یو ولایت کې یې رایې ورکړي دي، کولای شي چې په بل ولایت کې بیا رای ورکړي که څه هم داسې بریښي چې ددې طریقې د امکان د څیړلو لپاره په زیاتیدونکې توګه لیوالتیا شتون لري.

پلاوي وکتل چې د 2010 کال په پارلماني ټاکنو کې، د نا امني اغیز د رای اچوونکو پر ګډون باندې قومي اړخ او لویې سیاسې پایلې درلود. د غزني ولایت چې نیم خلک یې پښتانه او نیم خلک یې هزاره دي، د پښتنو سیمې ډیرې نا امنې وې او د تاوتریخوالی او د طالبانو د ګواښ له کبله د رای اچوونکو د ګډون کچه په دې سیمو کې ټیټه وه او په پایله کې هزاره نوماندان د پارلمان یوولس واړه کرسی خپلې کړې. پښتنو په قهر او په دې نظر وو چې د ټاکنو دا پایله ددې ولایت قومي تنوع نه څرګندوي. په غزني او نورو ولایتونو چیرته چې نا امني قومي اړخ لري، د دې ډول پایلو د مخنیوی لپاره د ولایتي حوزو ویشل په فرعي حوزو باندې د دواړو قومونو له برابر استازیتوب څخه د ډاډ ترلاسه کولو یوه غوره لاره ده. د بیلګې په توګه که چیرې د یوې قومي ډلې غړي په کوچنیو حوزو وویشل شي، او د ولایت لپاره هره پارلماني کرسی یوې ولسوالی/حوزې ته ځانګړې شي، نو حتی د لږ شمیر رای اچوونکو حضور هم کولای شي په دې سیمو کې د نومړې قومي ډلې د استازو د ټاکل کیدو لامل شي. په ورته وخت کې په ښکاره توګه د ټاکنیزو حوزو د پولو اړوند داسې د قوم په بنسټ پریکړه کول د هغه هر اړخیزه سیاسي پرمختیا مخه و نیسي چې افغانان یې په لټه کې دي.

د امنیتي وضعیت اړوند بحثونه ته باید په روښانه توګه د ټاکنیزو اصلاحاتو اړوند بحثونو سره اړیکه ورکړل شي. مخکیني ټاکنیزې ډیری ستونزې زیاتره په ناامنو سیمو کې رامنځته شوي دي او د 2001 کال په پرتله اوس طالبان زیاتې سیمې تر خپلې ولکې لاندې راوستي دي. ټاکنیز چارواکي ویلي دي چې باید حقیقتونه په خپل اصلي شکل سره و منو او د هغو شرایطو لپاره تر ممکن حده پورې ښه پروګرامونه جوړ کړو. خو د بلواګرو د په شا تمبولو په برخه کې د افغاني امنیتي ځواکونو په توانمندی کې د یو لوی بدلون پرته، کمزوری امنیت به په څو نا امنو ولایتونو کې د ټاکنو په پایلو باندې اغیز ولري. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د خپلو پالیسیو او پروګرامونو د جوړولو لپاره د امنیتي واقعي او کره ارزونو ته اړتیا لري چې کیدای شي د هغو خلکو د خبرو او نظریاتو پر خلاف وي چې د جنګ په میدان کې له بریالیتوبونو څخه خبرې کوي.

*******

National Democratic Institute
www.ndi.org
455 Massachusetts Avenue, NW, 8th Floor, Washington DC 20001

United States Institute of Peace
www.usip.org
2301 Constitution Avenue, NW, Washington DC 20037

*NDI's current programs in Afghanistan are supported by the National Endowment for Democracy.*